# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com　　www.afgazad.com

| مسایل ایدولوژیک | Ideological |
|---|---|


محمد هارون خپل شعشعی

۲۶ فبروری ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۴۱

### ۱۱۰- سفلي او علوي عالم : وګورئ عالم او د هغه ډولونه

### ۱۱۱- سُکُونَت :

سکونت، په لغت کي مسکين توب، فقيری، غريبی، ناداری، ارام، استراحت/ اسرهت،، هوساينې، کراری، سکون، استوګي/ استوګني، اوسېدني، اقامت او داسي نورو ته وايي[۱] .

سکونت، د روښانيانو په عرفاني سير او سلوک کي تر ټولو وروستی او لوړ مقام دئ . د پښتنو وتلي عرفاني لارښود او زړور سياسي مشر- پير روښان اورمړ ' انصاري'( ۹۳۱ - ۹۸۰ هـ ق) په خپل نامتو اثر « صراط التوحيد » او ځينو نورو آثارو کي ځانته د مسکين خطاب کړئ دئ؛ او زموږ د عارف شاعر، علي محمد مخلص، په ګډون يې نورو مريدانو هم د « ميا مسکين » په نامه يادونه کړې ده . د ميا مسکين د عرفاني ډکتورينو له مخي، د حقيقتو پلټونکي سالکان د « مسکين » مقام ته تر رسېدو پوري د جسمي رياضت د ښلابښلو پړاوو پر تېرولو سربېره، په خپل عرفاني سفر کي هم خورا اوږدې لاري او مزلونه وهي . دا عرفاني لاري او مزلونه په دې ډول دي : انسان له کُوپْره ( کفره) اسلام ته واوړي؛ له ګونا څخه توبه وباسي؛ وروسته د خدای په ذکر لاس پوري کي؛ په ذکر سره بينا سي، بينا نيژدې سي؛ نيژدې وصل سي؛ واصل يګانه سي؛ او بالاخره يګانه مسکين سي[۲] . د ميا روښان له دې بيانه په ډاګه مالوميږي، چي يوازي د يادو سوو صفتواو ځانګړتياوو خاوند مسکين، د سکونت لوړ عرفاني مقام ته رسېـــدلای سي . د پير روښان د عرفاني ډکتورينو له مخي، مسکين پر عرفاني پوهي ( شريعت، طريقت، حقيقت او معرفت) سربېره د نېکو خويو او نېکو

عملوښتن؛ او داسي ازاد عارف ګڼل کيږي، چي بې الهي ميني يي زړه د دونيا او عقبا له هرحجابه پرې کړئ يي (وي) . د حقيقت موندني او الهي ميني دې لوړ مقام ته رسېدلی عارف، په عرفاني اصطلاح د کامل ازاد، کامل اکمل، کامل مکمل، کامل تمام اوداسي نورو په نومو هم ياد سوئ دئ .

سکونت د روښاني سير او سلوک له عرفاني اصطلاحاتو او پراونو څخه شمېرل کيږي، چي د اسلامي تصوف او عرفان په نورو طريقوکې (کې يې) له دغه راز صفتو او خصوصيتو سره نوم او نښان نه ليدل کيږي . زياترو تصوفي او عرفاني مخکښانو د پير روښان د عرفاني طريقت ددې لوړ مقام پر ځای « فنأ الفنأ »، « فنأ في الله او بقأ بالله »، « تخلقوا باخلاق الله »، « موتوا قبل ان تموت »، « جمع الجمع » او داسي نور عرفاني اصطلاحات کار کړي دي . که څه هم دا ټول عرفاني اصطلاحات هم د روښاني د ورې په منظومو آثاروکي په کثرت سره بيان سوي دي .

زموږ انديښمند شاعر، علي محمد مخلص، په خپل عرفاني او تاريخي اثر« حالنامه » کي د توحيد او سکونت د اثبات په باب، د امام جعفر صادق يو ژور او دقيق عرفاني بيان راوړئ دئ، چي يادونه يي دلته بې ګټي نه ده . هغه وايي : « من عرف الفصل من الوصل و الحركة من السكونة فقد بلغ الى التوحيد القرار » ياني هغه څوک، چي بېلتون له وصاله او خوځښت له کرارۍ څخه وپېژني، په ريشتيا سره نوداسي څوک د کرارۍ و توحيد ياني سکونت ته رسيږي . په دې ډول، تر هغه مهاله چي واصل عارف وتوحيد ته نه يي رسېدلئ د سکونت او ارام مقام ته هم نسي رسېدلای[٣] . مخلص، د روښاني سير او سلوک له عرفاني اصولو او لاربښوونو سره سم، په خپل پښتو ديوان کي، د سکونت مقام د خپل عرفاني طريقت د معراج په توګه، په ډېرو ژورو نظريو او ښکلو تصويروکي بيان کړئ دئ . هغه، په يوه غزله کي « مسکين » د هغه رسېدلي عارف په توګه انځوريي، چي د ښتن تعالی د غوره سوو خويو په تر لاسه کولو سره يي خپله هستي ډوله نېستي له منځه وړې يي؛ او د حق له بې فنأ او بې انتها هستی سره يي د يوځای کېدو په مرسته د ابدي بقأ مقام تر لاسه کړی يي :

مقام اتم د معرفت دئ، دی مسکين په سکونت دئ
چي قرار پر سکونت شه ساکن خلاص شي له رحلته
د مسکين خوی د احد دئ، دی په صف د محمد دئ
له صورته ګوښه شوئ، دی واقف شه له عزلتـه

مخلص، په بله غزله کي « مسکين » ته د د اسي موحد عارف په څېر ګوري، چي د توحيد په نور يي د اغيارو او حجابوهر ډول سېوری او تيــــاره له مخي تښي . د ده له نظره، د توحيد لمر د سکونت د مقام ښتن، د پوهي او عرفان واسمانو پورته کيي؛ او « مسکين » ته د فاضلانو په منځ کي د وتلي او مخکښ مرتبه ورکيي :

چي سايه يي د توحيد په نمر شوه محوه
سرته پای يي د آفتاب په نور شاکل که
چي بی قراري حاصله شوه مخلـــصه!
دا مسکين يي په فاضلو کي فاضـل که

بل ځای د خپل عرفاني سير او سلوک د معراج په توګه، د حق تعالی ناپايه او لايزاله هستی ته د رسېدو په هيله د « مسکين » عارف په خويو او صفتوپسي داسي هڅه کيي :

نن صفت د مخلص ونيسه مخلـصه!

چي يي خوی د مسکين ونيوه مسکين شي

که څه هم مخلص، په خپله عارفانه شاعرۍ کي، هر ځای د الهي ميني په اور او لمبو کي سوځي؛ هيڅکله د دونيا د مال او منال يا د جنت د حورو او غلمانو سرخوږی نه اخلي؛ خو په يوه غزله کي د آخرت نعمتونه او شتنمنی، د « مسکين » په حق کي د حق تعالی پيروزينه ګڼي :

د عقبا۴ دولت هغه لره خدای کړئ

چي لويي په دنيا نه غواړي مسکين شي

مخلص، په يوه غزله کي، يوازي د « مسکين » مقام ته رسيدلئ عارف، د عرفاني ارشاد او خلافت وړ ګڼي :

د عارف چي سکونت يي تختــګاه شي

په معناه۵ کښي به عارف مسکين بادشاه شي

خلافت پر باندي ښايي که يي کاندي

چي د هر مقام له پوهي دی آګـاه شي

په بل ځای کي د تمکين د ښتن په پرتله، د مسکين اروا ازاده؛ او په خدای خوی موصوفه بولي :

د تمکين ښتن طاعت که په تصـديعه

د طاعت تکليف ساقط شي له مسکينه

په صورت که عبـادت روح يي آزاد دئ

د مسکين روح په خدايي صفت مـتينه

د مسکين ارواح آزاد له تلو راتـــلو دئ

کُل د جسم صفت محوه له اميـــــنه

د عرفان په ناپايه درياب کي د مخلص ژوري غوتي؛ په تېره بيا په روښاني طريقت کي د خلافت او ارشاد مقام ته د هغه رسيدل، ټول د دي حقيقت ښکارندوی دي، چي زموږ مفکر او روښان زړی عارف ، علي محمد مخلص، د سکونت پر ګدی ناست عرفاني لارښود ؤ .

د نورو مالوماتو دپاره وګورئ : **تخلقوا باخلاق الله**، جمع او جمع الجمع ، **فنأ او بقأ**، **موتوا قبل ان تموت**، **نفي او اثبات**، **هستي او نيستي** .

لمنليکونه

۱ عميد ۲: ۱۴۴۷ ؛ Wehr 418.

۲ حبيبي، د پښتو ادبياتو تاريخ ۲: ۲۶۳ .

۳ مخلص، حالنامهٔ بايزيد روښان ۶۰ .

۴ اصل : عقبی .

۵ اصل : معنی .

پاته لري